دریمه کچه

التعليم فوق الجميع | education above all

# زمونږ ښکلې نړۍ



**لیکوال:** بیبیک باټاچاریا

**انځورګر:** جوانا داوالا

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Our Beautiful World (Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



مونږ په یوه ښکلې نړۍ کې اوسېږو. یوه نړۍ چې له عجایبو ډکه ده. د هسکو غرونو، او د ژورو سمندرونو نړۍ، او د ژوند او خوند زیږوونکې نړۍ.

دا نړۍ ده چې مونږ یې کور بولو.



دلته مونږ بې ساري واکمنان یو
مونږ خپلې ټیکنالوژیکي معجزې
طرحه کوو، مونږ لوړې لوړې موخې ټاکو، مونږ
ښکلي حیرانوونکي شیزونه جوړوو.
مونږ نړۍ، کاینات مطالعه کوو.

مونږ د نویو وسایلو پر مټ د خپلو ژوندونو د لا ډېر هوسا کولو هڅې کوو، چې موخه یې په هر څه کې لا ډېر غوره بدلون راوستل دي.



هوسا، هو.

خو آیا دا بهتر دی؟

زمونږ کور د دي کار ستره بیه پرېکوي.

مونږ په ځمکه کې بدلون راولو، مارغان او ژوي، چې مونږ سره په ګډه په دې سیاره استوګن دي، وژنو، چې په ترڅ کې يې خپل سیال انسانان له خطر سره مخ کوو.

نړۍ په دښته (صحرا) بدلیږي. د سمندرونو سطحې لوړیږي، یخچالونه اوبه کیږي، فصلونه نه زرغونیږي. تودوخه لوړیږي.

یوه ستره بلا شتون لري چې ځمکه له ګواښ سره مخ کوي. دې ته ویل کیږي....



# د اقلیم بدلون

بني آدم د دې بلا منځته راوړونکي دي. دا یوه کیسه ده چې څنګه مونږ دا بلا منځته راوړله. دا یوه کیسه ده چې څنګه مونږ له خپل کور، یعنې ځمکې، سره خیانت وکړ.

نژدې ۱۲،۰۰۰ کاله پخوا، ځمکه یو نوي جیولوژیکي عصر ته، چې
هولوسین نومېده، داخله شوه.
دا جنت و.



دا هغه عصر دی کله چې د واورې/یخ فوق العاده ستر پوښښونه چې د شمالي نیمې کُرې (North Hemisphere) زیاتره برخه او د جنوبي نیمې کُرې(South Hemisphere) ګڼې برخې یې پوښلې وې، په شمالي او جنوبي قطبونو کې محدود شول، او نړۍ د پرېمانۍ او پراختیا یوې نوې دورې ته داخله شوه.

نوي ځنګلونه زرغون شول، او ژوند وغوړېدو.
د نړۍ اقلیم تود شو او بیا ثابت پاتې شو. له هغې راهیسې،
نژدې تر ۱۱،۰۰۰ کلونو پورې، د ځمکې اقلیم ثابت او ارام پاتې شوی دی.

نږدې ۲،۰۰۰،۰۰۰ کلونه کېږي چې انسانان د
ځمکې پر مخ ژوند کوي. خو د هولوسین
(Holocene) نه مخکې، ځمکه په دومره ښه
وضعیت کې هیڅکله نه وه پاتې شوې. په تېرو
۱۱،۰۰۰ کلونو کې، مونږ ښېرازتیا ترلاسه کړې
او پرمختګ کړی دی.
مونږ کرهنه کشف کړه، مونږ په کلیو او
ښارونو کې میشت شو، مونږ هنر منځته
راوړ، ستر تهذیبونه/تمدنونه مو جوړ کړل.

د جیزا اهرامونه، د سند وادۍ د
تمدن ښارونه، د ماریان امپراتوري او
د رومیانو امپراتوري – ټول د
هولوسین په جریان کې منځته
راغلل.



دا هر څه د پراخه کرهنې او سوداګرۍ پر مټ ممکن شول. موږ فصلونه وکرل، موږ څیزونه/توکي جوړ کړل او یو بل سره مو تبادله کړل. موږ ښېرازه شوي وو.



زموږ نیکونو د لا ډېرو فصلونو د کرلو لپاره ځنګلونه پرې کول پیل کړل، او، کرار کرار، د هغوی په پل، پل کېښودل شو او وغځېدو. حتی په هغه وخت کې هم، د اروپا، شمالي امریکا او هند زیاتره برخې په ګڼو ځنګلونو پوښل شوې وې.



دا ټول ډېر په تدریج سره وشو، د زرګونو کلونو په ترڅ کې. پر چاپېریال د بني آدم (انسانانو) اغېزه لا هم ډېره کمه وه. ځمکې د هغه څه د بېرته پورته کولو لپاره کافي اندازه سرچینې درلودې چې له منځه به تلل.

خو د پېړیو په تېرېدو سره، مونږ د ځمکې سرچینو څخه په لا ډېر سرعت سره ګټه اخیستلو ته ملا وتړله.

تقریباً ۵۰۰ کاله وړاندې، د اروپا لرغوني ځنګلونه نژدې ټول له منځه تللي وو، او حتی د نړۍ په نورو برخو کې هم، ځنګلونه د راټولېدو په حال کې وو.
انسانانو تل د اهلي/بومي کېدنې او خواړو لپاره د ځمکې له سرچینو څخه ګټه اخیستې ده، هغه که ونې دي، د اوسپنې په څېر منرالونه دي، یا څاروي دي.
مونږ تل له دې سیارې څخه تمه درلودلې ده چې مونږ ته نور هم راکړي.



بیا نو نژدې ۲۵۰ کاله مخکې، یو څه پېښ شول.

صنعتي عصر، د ماشینونو عصر.

تر دغه وخته پورې، مونږ تر ډېره بریده د کار لپاره لاسي اوزار کارولي وو. په پای کې، همدومره زیان به منځته راتلو چې مونږ به راوستلای شو. خو له ماشینونو سره، مونږ هر څه کولای شو.

د لومړي ځل لپاره، مونږ د سوداګرۍ لپاره په پراخه کچه د توکو د تولید لپاره د نساجۍ برقي ماشینونو او د براس/بخار انجن په څېر ماشینونه وکارول.

مونږ د ماشینونو د چلولو لپاره چې مونږ لپاره زمونږ کار ترسره کړي فوسیلي (fossil) سوند توکي، لکه سکاره او تېل، وسېځل.

زمونږ د ژوندانه هر اړخ نن له صنعتي انقلاب څخه راځي. موټرونه، الوتکې، ګرځنده ټیلیفونونه، خلایي الوتنې، کمپیوټرونه، دا ټول ۲۵۰ کاله مخکې پیل شول.

که څه هم دې کار د انساني پرمختګ لپاره مشالونه روښانه کړل، خو تیاره سیورې یې هم رابرسېره کړ: یعنې د **اقلیم بدلون**.





ځمکه ډېره لرغونې ده. تر څلور میلیارده (بېلیونه) زیاته کلونه لرغونې. په ځمکه باندې ژوند تر ۳ میلیارده زیات کلونه پخوا پیل شو. مونږ څنګه پوهېږو؟ دا ځکه چې تر ټولو زاړه فوسیلونه (fossils) په دغه عصر پورې تړاو لري.

فوسیلونه (fossils) څه دي؟ ځمکه د نباتاتو او حیواناتو د هېښووونکو ډولونو کور پاتې شوې ده. ټولې ژوندي مخلوقات، د انسانانو په ګډون، په بنسټېزه توګه له کاربن څخه جوړ دي.  کله چې دوی له منځه ځي، او کله چې لوېې وچې (continents) تغییر مومي، د دوي پاته شونې بېرته ځمکې ته، چېرته چې دوی باقي پاتې کېږي، ستنېږي. د زرګونو کلونو په ترڅ کې، دا د کاربن په بېلا بېلو شکلونو سره بېرته راځي: لکه سکاره، ګاز، تېل. د ځمکې فوسیلي زېرمې په همدې طریقې سره منځته راځي.



کله چې مونږ د سېځلو او د خپلو ماشینونو د چلولو لپاره د سکرو او تېلو استخراج (را ایستل) پیل کړل، مونږ فوسیلي سوند توکي منځته راوړل.

همدا زمونږ د معاصرې ښېرازتیا بنسټ پاتې شوی دی. نږدې د هر شي لپاره چې مونږ یې کوو، مونږ سکاره او تېل سوځوو. مونږ د ځمکې سینه کیندو، مونږ سکاره او تیل استخراجوو، مونږ دا سوځوو. مونږ خپل ژوند کوو.

خو مونږ دومره کیندنه کړې او دومره سوځول مو کړي دي، چې مونږ د هولوسین انډول ګډوډ کړی دی.



ځومره ډېر چې مونږ سکاره او تېل سوځوو، هومره
ډېر کاربن ډای اوکسایډ خارجوو. دا په اټموسفير کې
ذخيره کېږي.

کاربن ډای اوکسایډ نه پرېږدي چې د لمر تودوخه
بېرته د ځمکې له اټموسفيره بهر ووځي. او د نړۍ
تودوخه لا پسې لوړېږي. نړۍ په تنور بدلېږي، او
دا تودوخه اقليم بدلوي.

ځمکه کرار کرار له اوسېدو وزي.

نن سبا تودوخه د ۲ پېړيو پخوا په پرتله د سانتي ګراډ په
کچه ۱.۲ درجه لوړه ده. که مونږ همداسې ادامه ورکړو،
نړۍ به تر ۲۰۵۰ زيږديز کال پورې، د اوس په پرتله د سانتي
ګراډ په کچه ۲.۴ درجې توده وي.



که دا کار پېښ شي نو د سمندر سطحه به لوړه شي.
د ممبۍ او کولکتې په څېر ساحلي ښارونه ښايي ويجاړ شي.

د هماليا يخچالونه (کنګل شوي غرونه) به له منځه ولاړ شي، د ګنګا او برهم پُترا په څېر سيندونو کې به تل سيلابونه راځي. او کله چې يخچالونه خلاص شي، سيندونه به هم وچ شي.

د تودوخې د څپو له امله به د ورځې ګرځېدل ناشونی شي. حتی خلک به په کورونو کې دننه کړاوونه ګالي.

له سمندر څخه به هر کال ستر ستر توپانونه راولاړېږي او د سمندر پر غاړه ښارونه به ځپي.
د څښاک اوبه پېدا کول به ډېر ستونزمن وګرځي. د کنګل یا شمالي قطب حلقې (کړۍ) او ګرین لینډ ټول یخ به له منځه ولاړ شي.
ځنګلونه به هر کال سوځي. له تر ټولو ژورو ځنګلونو څخه نیولی تر ټولو لوړو غرونو پورې، څاروي به له لوږې مړه شي.
د کووېډ-۱۹ په څېر سیمه ییزې او نړیوالې وباګانې ښايي ډېرې عام شي.

دا د ټولې نړۍ لپاره یو *ډاروونکی* راتلونکی دی.




هو، هيله هم شته



مونږ اړ نه یو چې د سکرو او تېلو سوځولو ته ادامه ورکړو. په واقعیت کې، امکان لري ټوله نړۍ تر ۲۰۵۰ کال پورې د فوسیلي سوند توکو سوځول بند کړي.

چې فوسیلي سوند توکي نه وي، اضافه کاربن ډای اوکسایډ به په اټموسفیر کې نه وي. او اضافه تودوخه به هم نه وي.

انسانان ځيرک دي، او مونږ واردمخه داسې ټيکنالوژۍ جوړې
کړي دي چې له لمر، باد او اوبو څخه انرژي اخيستلای شي.



که چېرې په نړۍ کې هر هېواد د فوسيلي سوند توکو کارولو ته "نه" ووايي، موږ د اقليم بدلون بلا ته ماته ورکولای شو.



مونږ په یوه ښکلې نړۍ کې اوسیږو.
مونږ دا ښکلې ځمکه چې له عجایبو ډکه ده، خوندي ساتلای شو.
د هسکو غرونو، او د ژورو سمندرونو نړۍ، او د ژوند او خوند زیږووونکې نړۍ.

## دا نړۍ ده چې مونږ یې کور بولو.



# لارښودونکې پوښتنې

1. آیا چېرته چې تاسو اوسېږئ، هلته مو په موسم کې تازه بدلونونه یا د موسم ناآشنا سلوکونه لیدلي دي؟ که هو، تشریح یې کړئ؟
2. د فوسیلي سوند توکو ځینې ګټې کومې کومې دي؟ مونږ چې له فوسیلي سوند توکو څخه په پراخه کچه کومه ګټه اخلو، د هغې اغېزې کومې کومې دي؟ تاسو د فوسیلي سوند توکو د استعمال د کمولو لپاره څه کولای شئ؟
3. 'شین کوریزه اغېزه' څه ته وايي؟ دا څه کوي؟ د شین کوریزې اغېزې سره فوسیلی سوند توکي څه اړیکه لري؟
4. 'د نه نوي کېدو وړ' سرچینه کومه یوه ده؟ د یوې نه نوي کېدو وړ سرچینې څخه ګټه اخیستل ولې ښايي ستونزمن ثابت شي؟
5. هغه کوم ورځني فعالیتونه دي چې د اقلیم بدلون کې ونډه لري؟ مونږ د اقلیم بدلون د تم کولو لپاره څه کولای شو؟